مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۳/۰۱

# زه او خیال

چې ساقي په لاس کې راکړله ، جامونه
رانه هیر یې کړل ، د تیر عمر غمونه

کړی شپه ده ،او تپولي ده ، د رندانو
زه او خیال ،او د بد مستو آوازونه

چیرته لاړې ، ای زما فلسفي خیاله
راشه وسپیره ، د نوي ژوند بابونه

یو ځل بو می ځه له خوده ، بیخودیه
چې هجران لمبو می زیات کړله ، دردونه

د هستي په معما ، باندی پوه نه شوم
څوک به وي چې راته راکړي ، ځوابونه

هومره پوی یم د عبرت په دې صحرا کې
زمانه ښایي هر چاته ، بیل رمزونه

هسی ورک، یو څو شیبي شوم  په خپل ځان کې
تصور کې چې می کښنوده ، ګامونه

ځینو لاره ، په حالاتو کې کړه ورکه
ځیني ورک کړل ، په لویي کې خپل ځانونه

نه پوهیږم دا د چا ، د پښو آواز دی
چې می زړه ته رارسیږي ، پیغامونه

چې یې زړه په معرفت ، روښانه نه وي
هیڅ تأثیر به پرې و نه کړي ، دا نظمونه

تربیت مو بنیادي ، سمول غواړي
که نه ټول عمر به مونږ یو او جنګونه

معرفت کې به ، ټول سیمه ګلستان شي
که مونږ وکړو ، په لارو کې ، ګلونه

ظلمتونه ، او تیارې به شي ، نور ختمې
که روښانه کړو ، د لارې مشعلونه
انسانیت به خپل ، معراج ته ورسیږي
له کینو نه که مو وژغورل ، خپل زړونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ